عبدالغفور لیوال
۲۰۲۰/۱۲/۲۵

# که ټول مو ووژل...؟

**جوزجاني قاضي منهاج سراج په خپل تاریخ (طبقات ناصري) کې لیکي:**

**"چنګیز خان د خوراسان یوه مخورمشر قاضي وحیدالدین ته وویل:**

**له محمد اُغري ښځه داسي کسات اخلم، چي د دې کسات لپاره به مي په نړۍ کي خورا زورور نوم پاتي شي.**

**قاضي وحیدالدین وویل: کله چي یي بیاځلی رانه وپوښتل، چي زورور نوم به مي پاتي نه شي؟ نو ما خپل مخ پرزمکه کېښود او ورته ومي ویل: که خان د سر امان راکړي، نوښه لنډ ټکي به ووایم.**

**ویي فرمایل: امان درکوم، ووایه!**

**ما وویل: زورور نوم خو به دې هلته پاتي شي، چي خلک په کې وي. که د خان لښکریان ټول خلک ووژني، نو نوم به څه پاتي شي؟ او ستا د زورور نوم کیسي به څوک کوي؟**

**ما چي دا خبره وکړه، نو چنګیزخان غوسه شو، لینده او غشی یي په لاس کي ول، له ډېره قهره یي پر زمکه وغورځول او ماته یي له ډېر خښمه شا راوګرځوله"...**



**نو**
**وه د دې هېواد د هر (انسان) وژونکیو!**

**چي د واک جنون مو سترګي در ړندي کړي دي،**

**که ټول مو ووژل، سبا به واک پرچا چلوئ؟ او څوک به مو نوم یادوي؟**

**له تاریخه یي نه زده کوئ؟**

**د چنګیزخان زورور نوم خو مو په مخکي دی!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ